هاري واشنگټن 18 / ۱۲ / ۲۰۰۸

# د شوروي د ماتي هيبتناکه ازانګې امريکا اوري

نن سبا، دامريکا او نړۍ په اخبارونو کي، دافغانستان د وضعي په باب يو لړ نوي بحثونه روان دي. يو سبب يې دا دی چي ډېر ژر به ښاغلي اوباما په کار پيل وکي. افغانستان او پاکستان ته به ډېره توجه وکي. د اوباما اداره فکر کوي چي افغانستان او پاکستان د القاعدې او مذهبي افراطيت مرکز دی. په سيمه کي، د مذهبي قاتلانو پرله پسې حملې همدا مفکوره نوره هم غښتلې کوي. په ممبی کي د اې، ايس، اې په ښکاره لمسون د پاکستاني مذهبي تروريزم وحشت او بربريت، دننه په پاکستان کي د مذهبي ټروريستانو پرله پسي مرګاني بريدونه، او بالاخره په افغانستان کي د ځانمرګي حملو ډېرېدل ددې نظريې اعتبار نور هم زياتوي. سپينه او پاکه خبره دا ده چي پاکستان د اسلامي ټروريزم ځالګی ده. تر څو چي اې، ايس، اې له مذهبي شرارت څخه لاس وانه خلي، په سيمه کي د سولي او ثبات ټينګېدل امکان نلري. دا يو سپين او رشيتن واقعيت دی.

په امريکا کي، د ښاغلي اوباما په امر د افغانستان په باب فعلا يو شمېر څېړني جاري دي. عموما، په امريکا کي د يوه جمهورريس د راتګ تر مخه مطبوعات پر هغو مسايل باندي ډېر ټينګار کوي چي راتلونکې اداره ورته زيات اهميت ورکوي. په همدې لړ کي، د افغانستان روانه وضعه د امريکا د خارجي سياست لپاره يو مهم چلنج بلل کېږي. بلخوا، په امريکايي مطبوعاتو کي د شوروي د اشغال او له هغه څخه د عبرت اخيستلو موضوع هم ډېره ګرمه ده. يو علت دا دی چي دشورويانو تجربه ډېره لنډه او پرونۍ ده، او زياتره اوسني امريکايي مامورين په يو نوع د جهاد په کاروبار کي دخيل وه. د مثال په توګه، د دفاع وزير، رابرټ ګېټس، د شوروي د اشغال په دوران کي (۱۹۷۹-۱۹۸۹) د افغانستان په مسله کي ښايسته زيات دخالت لاره. د جمهورريس منتخب مرستيال، ښاغلی جو باېډن، هم د افغانستان سره اوږده سابقه لري. حقيقت دادی چي د شورويانو ترخه تجربه د افغانانو لپاره هم ډېره عبرتناکه او تباه کونکې وه، او هم د نننی مسلطو خارجيانو لپاره اهميت لري. فعلا، زياتره افغانان نننی امريکايان د پروني شورويانو سره پرتله کوي.

بل پلو، ځيني امريکايي او خارجي ليکوالان د افغانستان د ستراتيژيک اهميت په باب په زياتېدونکې توګه شک او ترديد ښکاره کوي. د دغو ليکوالانو په کتار کي انګريز ليکوال، روري سټيوارټ، ښايي تر نورو ډېر شهرت ولري. ښاغلي روري په کابل کي اوسېږي، هلته يوه وړه خيريه موسسه لري چي دکابل د زاړه ښار د بياودانولو په اړوند په کار بوخت دی. هغه په کال ۲۰۰۲ کي له هرات څخه تر کابل پوري د غور، هزاره جات، او وردګو پر لارو باندي پلي او يوازي دخپل سپي "بابر" سره يو تاريخي او يادګاري سفر کړي دي. د همدې سفر په ارتباط يې کتاب ليکلی دي؛ اوس، په غربي مطبوعاتو کي د افغانستان په باب مقالې او تبصرې ليکي. ددې ليکوالانو مفکوره دا ده چي افغانستان په هغه اندازه اهميت نلري لکه چي موږ فکر کوو. په بل عبارت، افغانستان يو خوار او غريب ملک دی او هيڅ نده په جوړه. افغانستان تل بې ثباته او ناکراره وو. افغانستان هيڅکله مرکزي حکومت نه لاره. تل دکابل حکومت د قومي او محلي مشرانو سره په ګډه او ايتلاف حکومت کاوه.

همدا ډله مبصرين فکر کوي چي دافغانستان سياسي مشکل چاره نلري. مګر بايد وويل سي چي د افغانستان ستونزه چاره لري. او هغه قوي، مرکزي، پاک، او مترقي حکومت دی. داسي حکومت چي امنيت وساتي. اقتصادي پرمختګ راولي. او د افغانانو د نن او سبا غم وخوري. افغانستان په کلونو کلونو باثباته او مرکزي حکومتونه لرل. افغانستان به ښايي غريب هېواد وي، خو ستراتيژيکي موقعيت يې خورا مهم دی. د ښاغلي روري سټيوارټ اشتباه پدې کي ده چي هغه په ناحقه د افغانانو پخپلمينځني اختلافاتوکي څه غرضي دريځ او خوا نيولې ده. همدې سياسي موقف د ښاغلي روري نهايي تحليل او نظر لړزانه او خطرناکه کړی دی. په هر صورت، هڅه سوې ده چي د رپوټونو اومقالو مهم ټکي ترجمه سي، ځيني دونه نيښتېږل سوي دي چي فقط يو يا دوه مطلبه ترې را اخيستل سوي دي.

د کرسچين ساينس مانيټور انلاين ورځپاڼه د ډسمبر پر ۱۹ پخپل يوه په زړه پوري رپوټ کي په افغانستان کي دشورويانو او امريکايانو تجربې سره مقايسه کوي. د شورويانو د اشغال په زمانه کي، ښارونه د شورويانو او دکابل حکومت پلاس کي وه، خو کليوالي سيمي د مجاهدينو په ولکه کي وې. نن ورځ، همدا لوبه روانه ده. قريب ۷۲ فيصده


افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de

خاوره کي یاغیان دایمي حضور لري. د شوروي د اشغال په دوران کي، مجاهدینو په پاکستان کي د ارام او سېب ځای لاره. نن سبا، طالبان هم د استراحت، تفریح، او تړېننګ لپاره پاکستان له ځي. عامه افغانان له شورویانو څخه خوشحاله نوه. نن ورځ ، له امریکایانو څخه هم راضي ندي. هله هم لویي لاري او سړکان ناامنه او خطرناکه وه. نن سبا، همدا شریره لړۍ بیا روانه ده. د متحده ایالاتود پوځي او جنګي کالج پروفسور، لاري ګوډسن، وایي: همدا مشابهت او ورته والی د شورویانو بدي خاطري را ژوندی کوي. هغه وخت، مجاهدینو د شوروي کاروانونه وهل او حملي پرې کولي،نن ورځ هم د امریکاپر اکمالاتو باندي پرله پسي بریدونه کېږي. اکمالات د یو لښکر د ژوند او مرګ سوال دی.

د کرسچین ساینس مانیټور اخبار ادامه ورکوي او لیکي: په کابل کي، روسي دیپلوماتان وایي: موږ او افغاني دوستانو مو قریب ٤٠٠٠٠٠ عسکر لرل، خو بیا هم بریالي نه سو. پروفسور ګوډسن وایي: شورویانو د مقاومت د ختمولو لپاره د کلیوالي سیمو بمباریو ته زور ورکی. نن ورځ، دملکي خلکو د وژلو هره حادثه هغه پخوانۍ بدي او ډارونکي خاطرې را په یادوي . په افغانستان کي، د روسیې سفیر، ښاغلي کابلوف، چي د ۱۹۸۰ په کلونو کي په افغانستان کي د کي جي بي مامور وو، وایي: اوس، تاسو د ښځو د حقوقو او دیموکراسی د ټینګولو خبري کوي، پرون موږ د کمونزم د قایمولو دعوه کوله. ښاغلي کابلوف وایي: تر ټولو ښه لاره دا ده چي افغانان پرېښودل سي چي خپله خپل برخلیک وټاکي. هغه وایي زموږ تر ټولو بده اشتباه دا وه چي موږ غوښتل خپله ایدلویوژي پر افغانانو تحمیل کوو. امریکا او ناټو افغانانو ته د سیال په سترګه نه ګوري. هغوی اصلي مشکل ته پام نه کوي. اصلي ستونزه د یوه قوي مرکزي حکومت جوړول دي. پرفسور ګوډسن وایي: د شورویانو تجربې د نظامي حل ناکامي وښوده. ښه لاره دا ده چي پاک او غښتلی مرکزي حکومت جوړسي، اقتصاد تقویه سي، د قانون حاکمیت خور سي، او انکشافي پروژې ډیري سي. همدا، د خلاصون لاره ده.

د کرسچین ساینس مانیټور ورځپانه د ډسمبر پر شپاړلسمي باندي لیکي: امریکایي او افغاني چارواکي غواړي چي په طالبانو کي درز واچوي او په اصطلاح د اصلاح سویو او پستو طالبانو سره روغه جوړه وکي. طالبان او القاعده سره جلا او بېل سي. خو مشکل دادی چي طالبان د القاعدې په پیسو چلېږي. په افغانستان کي، زیاتي او رنګارنګ مسلح ډلي فعاله دي. اکثره یاغیان د کومي خاصي ایدیولوژي او عقیدې لپاره نه جنګېږي، بلکي زیاتره یاغیان خپل محلي شکایتونه لري چي له بد اقتصاد او پراخي بېکارۍ څخه نیولي بیا د کابل له حکومت او بین المللي عسکرو څخه پراخه بېزاري شامله ده.

د اکانومیسټ مجله د ډسمبر پر ١٤ د" بل سرج" تر عنوان لاندي دا سوال مطرح کوي چي ایا د امریکا نور اضافه عسکر او نوې ستراتیژي به طالبان مات کي؟ مجله سمدستي د عراق مثال ورکوي او هلته د"ویښي شورا" او د "عراق د زامنو" بریالیتوبونه یادوي. متحده ایالات به له عراق څخه خپل عسکر را وباسي، خوافغانستان ته به ٢٠٠٠٠ نور عسکر واستوي. د نوي ستراتیژۍ په اړه د کابل- کندهار- هرات د لویي لاري د امنیت ساتل له لمړیتوبونو څخه دي. دا لاره طالبانو او غلو نا امنه کړې ده. دغه راز، د کابل د نفوذ او حاکمیت ساحه به هغو سیمو ته غزول کېږي چي همدا اوس د طالبانو په ولکي کي دي. لوي ښارونه باید امن سي. د قومي او محلي مشرانو او قوتونو سره ارتباط او د خبرو اترو چېنلونه باید خلاص سي. په کلیوالي سیمو کي امنیت ټینګ او د بیاودانولو پروژې پیل سي. قومي شوراګانو ته به معاشونه مقرر سي، او قومي شوراګانو ته به په حکومت ډېره ونډه ورکړه سي. اربکیان به مسلح او تنظیم سي. د قومي شورا هر غړی او هر اربکی به د میاشتي ١٢٠ ډالره معاش لري.

مجله لیکي: ایا دا نقشه به کار ورکي او کنه؟ د افغانستان قومي سیاست پر نفاق ، پیسو، او فساد راڅرخي. د قومي سیالیو کنټرولول ګران او ستونزمن کار دی. جمورریس حامد کرزی بې حده بې اعتباره دی. افغانان ورځ په ورځ له حکومت څخه فاصله نیسي. افغان پولیس فاسداو بې تعلیمه دي. په ولایاتو کي، افغانان او خارجیان وایي ددې نقشي د موفقیت لپاره دقومي شوراګانو لپاره د ښو او مسولو استازو انتخاب او ټاکل حیاتي اهمیت لري.

د ټایم په مجله کي د ډسمبر پر ١١ مشهور ژورنالیسټ ښاغلي جو کلاین پخپلي مقالي کي پوښتنه کوي : ولي موږ په افغانستان کي یو؟ هغه د افغانستان جنګ یو خوشي بې مقصده سیاسي حماقت ګڼي. ښاغلی کلاین لیکي: د افغانستان جنګ د بن لادن د نیولو یا وژلو لپاره پیل سو، خو اوس اوه کاله را وروسته امریکا د یو لړ مذهبي ډلو سره چي د مخدره موادو په قاچاق چلېږي په یوه نه تمامېدونکي جګړې کي لټاره ده. همدې مختلفو انواع او اقسامو مافیایي ډلو ته


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

مورږ نن سبا د "طالبانو" خطاب کوو. د طالبانو مشران په پاکستان کې ازاد تګ راتګ کوي. د مخدره موادو قاچاق او کر ټول افغانستان په سر اخیستی دي. د جمهوررییس حامد کرزي اکثره عالي رتبه مامورین او حتی خپلوان د مخدره موادو په قاچاق لګیا دي. یو انګریز دپلومات وایي: دلته جنګ د دین او مذهب ندی، بلکي دپیسو لپاره دي.

ښاغلي کلاین ادامه ورکوي او لیکي: مورږ په افغانستان کې د دولت او ملت د جوړولو په یوې پراخي او کرغېړني پروسې لګیا یو. مورږ ادعا لرو چي د جمهوررییس حامد کزري حکومت دیموکراتیک دی او مورږ د هغه دفاع کوو. مورږ ځان په یوه ناممکن کار او درواغو بوخت کړی دی. افغانستان هیڅکله یو قوي مرکزي حکومت نه لاره. د خطر اصلي مرکز پاکستان دی. بن لادن که چیري ژوندي هم وي نو هلته اوسېږي. پاکستان مصنوعي او غیر طبیعي سرحدونه لري. ذره وي وسلې لري. او له هند سره یوه ږنده او مرګانۍ دښمني او بدي لري. د بوش اداري همدا دوه مخی پاکستان پخپل غېږ کي وساتی. جنرال مشرف ته یې پیسې او سیاسي حمایت ورکی. که څه هم زرداري همکاري کوي، خو د پاکستان پوځ لا تر اوسه هم طالبان او نور مذهبي افراطیان تقویه کوي. د ممبی تروریستي حملې همدا کنکشن ښه رسوا کی. ښاغلی اوباما مجبوره دی چي د اسلام اباد او کابل د مشرانو سره جدي خبري وکي. دواړو ته باید ووایي چي هر یو باید خپل حد وپېژني، او کنې نو پر دواړو خواوو باندي مالي مرستي بندي سي. ښاغلی اوباما ته به ډېر ژر یو بې هدفه او مقصده جنګ په میراث ورسېږي، هغه مجبوره دی چي همدا اوس لا کابل او اسلام اباد ته څرګند او جدي پیغام واستوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de